# شکر

**لیکنه: مولوي عبدالحق حماد**

ابو امامه باهلي رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وېلي: زما په دوستانو کې د سيالي وړ هغه مسلمان دی چې پېټی (مال او دولت) يې لږ وي ، او د لمانځه پانګه يې زياته وي، د الله جل جلاله عبادت په ښه توګه کوي، په پټه هم د الله پر لاره ځي، په خلکو کې نه خو لوړ نوم لري او نه هم په ګوتو اشارې ورته کيږي، روزي يې يواځې د ورځنی لګښت لپاره پوره وي او هغه پرهمدومره روزي صبر کوي. اوبيا رسول الله صلی الله عليه وسلم لاسونه ټک وهل، او ويې وېل: مرګ يې رانږدې وي، ژړا کوونکي يې کم ، او ميرات يې لږ وي.

او په بل روايت کې راغلي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي: ماته د الله جل جلاله له لوري وړانديز وشو چې د مکې غرونه به درته سره زر کړو. خو ما ورته ووېل: نه ربه! زه غواړم چې يوه ورځ په مړه او بله په لوږه تېره کړم،( درې ياتر درې ځله زيات يې دا خبره وکړه) خو ماووېل: کله چې وږی شم نو تاته به زاری کوم او تابه يادوم، او کله چې بيا موړ شم نو ستا شکر او ستاينه به کوم.

معاذ بن جبل رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم تر لاس ونيولم او راته يې ووېل: ای معاذه ! قسم په الله چې زه له تاسره مينه لرم. قسم په الله چې زه له تاسره مينه لرم. ، او دا درته وايم: چې هيڅکله له لمانځه وروسته دا دعاء مه هېروه: اللّهمّ أعنّي على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك.

ژباړه: ای الله! ستا د ذکر ، شکر او ښه عبادت توفيق راکړې.

ابو هريره رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وېلي: بې روژې شکر کوونکي ته د صبر کوونکي روژتي ثواب ورکول کيږي.

ابو درداء رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وېلي: الله جل جلاله عيسی عليه السلام ته وېلي: **له تا وروسته داسي امت پيداکوم چې کله يې د خوښې کار وشي د الله جل جلاله ستاينه او شکر باسي، او که له کومې ناخوالي سره مخ شي نو بيا پر زړه زور راولي او صبر کوي. هغوی نه خو خپله نرمي او نه هم پوهه لري** . عيسی عليه السلام وپوښتل: هغوی چې پوهه او نرمي نه لري نو څنګه به د دومره ښه اخلاقو څښتنان وي ؟ الله جل جلاله په ځواب کې وايي: هغوی ته زه له خپل حلم او علم څخه برخه ورکوم.

انس بن مالک رضی الله عنه وايي: يو سړی و چې کله به هم رسول الله صلی الله عليه وسلم ورسره مخ شو نو پوښتنه به يې ترې وکړه : فلانيه څنګه يې؟ هغه به په ځواب کې ووېل: ښه يم الحمد لله، رسول الله صلی الله عليه وسلم به ورته وويل: الله جل جلاله دې په خير لره. يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورسره مخ شو او ويې پوښت: فلانيه ! څنګه يې؟ هغه وويل: ښه يم ، که شکر وباسم. رسول الله صلی الله عليه وسلم پټه خوله شو. سړي وويل: يا رسول الله! نورو ورځو به دې له پوښتنې وروسته راته ويل: الله دې په خير لره؛ خو نن دې څه ونه ويل، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: نورو ورځو کې چې

به مې پوښتنه درڅخه وکړه تابه ویل: ښه یم الحمد لله ؛ نو ځکه به ما درته وویل: چې الله دې په خیر لره؛ خو نن ته شکمن وې او ویل دې که شکر وباسم؛ نو په خیر یم، ځکه ما هم څه ونه ویل.

ابوهریره رضی الله عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وېلي: یو سړی پرلاره روان و چې ډېر تږی شو ، یوه څاه (کوهي) ته ورکوز شو اوبه یې وڅښلې، کله چې بېرته راوخوت. نو یو سپی یې ولید چې له تندې څخه لندې ختې خوري، سړي له ځان سره ووېل: دا خوارکی هم د تندې له لاسه هغه ځای ته رسېدلی لکه چې زه وم. څا ته کوز شو خپله پڼه یې له اوبو ډکه او په خوله کې یې ونیوله راوخوت سپی یې اوبه کړ، او د الله جل جلاله شکر یې اداء کړ الله جل جلاله هغه ته ښښنه وکړه، صحابه کرامو وپوښتل : یا رسول الله ! ایا موږ ته له څارویو سره په ښېګڼه کې هم ثواب شته ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ووېل: هو! په هره لمده بینه کې ثواب شته .

صهب رومي رضی الله عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وېلي : د مؤمن حال ته حیراني ده چې ټول سره ګټه ده. او دا نېکمرغي له مؤمن پرته د بل چا نه ده په برخه شوې ، مؤمن ته که خوشالي راشي شکر باسي چې هغه یې ګټه ده. او که زیان ورته ورسیږي صبر کوي بیا یې هم ګټه ده.

ابوهریره رضی الله عنه وایي: څوک چې د خلکو شکر نه اداء کوي هغه د خدای شکر هم نه شي اداء کولای.

اسامه بن زید رضی الله عنهما وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وېلي: له چا سره چې ښېګڼه وشي او دی یې په بدل کې ((جزاك الله خیرا)) ووایي: نو دې سړي ډېره ښه بدله ورکړه.